روشن
ROSHAN

Nazdik Shodan

رسنیزه خبرتیا

د روشن شرکت د "کابل جان" وړاندیز ګټونکي اعلان کړل

۱۳ تنو ګټونکو بیلابیلی جایزی ترلاسه کړی

د قوس ۷مه ۱۳۹۵، کابل، افغانستان – روشن، د هیواد مخکښ مخابراتي شرکت نن د "کابل جان" وړاندیز ۱۳ ګټونکي اعلان کړل. د دغه وړاندیز له لاری د روشن پیرودونکو کولای شو چی د پنځو انټرنیټي او اړیکو د بنډلونو څخه د یو په فعالولو سره په دی وړاندیز کی شامل شي. ګټونکو ته د موټرسایکل، ایرکنډیشن، ټلویزیون، هوښمند ټلیفون، غږیز سیسټم(Sound system)، یخچال او جنراتور په ځیر غوره جایزی ورکړل شوی.

دغه جایزی د "کابل جان" وړاندیز له لاری چی په کابل کی میشتو پیرودونکو لپاره و، ورکړل شوی. د روشن پیرودونکو کولای شو چی د پنځو انټرنیټي او اړیکو د بنډلونو څخه د یو په فعالولو سره پرته له کوم اضافي لګښت څخه په دی وړاندیز کی په اتومات ډول شامل شي.

د روشن عملیاتي رئیسی، شیرین رحمانی په خپلو څرګندونو کی وویل:" د کابل جان وړاندیز یوازی د پچی اچونی له لاری یوه سیالی نه وه، بلکه د روشن یو ځانګړی پروګرام دی چی له لاری یی مونږ غواړو خپلو پیرودونکو ته ارزښت ورکړو. د "کابل جان" نوم مو لدی امله خوښ کړ چی د هیواد د پلازمینی لپاره د ټولو افغانانو د مینی ښکارندوی دی."

روشن د "کابل جان" وړاندیز د روان کال د چنګاښ په ۲۱مه نیټه په لاره واچوه او د تلی د ۲۴مې نیټی پوری یی ادامه لرله. د دغی وړاندیز ګټونکي د تلی په ۲۶مه نیټه د یوی پچی اچونی له لاری چی د مخابراتي خدمتونو د تنظیموونکی اداری (اترا) د استازي په شتون کی ترسره شوه، وټاکل شول. په دغه پچه اچونه کی د روشن د ۴ سوه زرو څخه ډیر پیرودونکي شامل وو.

د روشن شرکت همدارنګه په دی وروستیو کی د "روشن ملیونر" په نوم یو نوی وړاندیز په لاره اچولی دی چی په هیواد کی سرتاسره د روشن پیرودونکي کولای شي د۵۰،۰۰۰ افغانیو (پنځوس زره) اونیزی جایزی او ۱،۰۰۰،۰۰۰ افغانیو (یو ملیون) لوی جایزی د ګټلو چانس ترلاسه کړي. د "روشن ملیونر" د یو ملیون افغانیو ګټونکی به د روان کال د کب په میاشت کی د پچی اچونی له لاری اعلان شي.

د روشن په اړه

روشن (دافغانستان دمخابراتو د پراختیا شرکت) د افغانستان مخکښه مخابراتي کمپنی ده چی تر ۶,۵ میلونو څخه ډیر فعاله پیرودونکي او تر ټولو غوره شبکه لري چی د هیواد په ۳۴ ولایتونو کي د ۲۸۷ څخه ډیري ولسوالی او ښارونه یي د پوښښ لاندي راوستي دي.

روشن د افغانستان د بریاوو ښه نمونه ده چی د هیواد په پرمختګ کي فعاله ونډه لري. په ۱۳۸۲ کال کی د فعالیت پیلولو څخه تر دي دمه یي په افغانستان کي ۷۰۰ میلونه ډالره پانګه اچونه کړي ده او د هیواد تر ټولو لویه پانګه اچوونکي او مالیه ورکوونکي کمپنی ده چی د افغانستان د کلني داخلي عوایدو تقریبا ۶ سلنه برابروي. روشن په مستقیمه توګه د ۹۰۰ په

شاوخوا کی کارکوونکي لري چی دهغو له جملي څخه ۱۹ سلنه يي بنځي دي. او همدارنګه ۳۵۰۰۰ افغانانو ته يي په غير مستقيمه توګه د کار آسانتيا برابره کړي ده.

روشن د افغانستان بيارغوني او پرمختګ ته هراړخيزه ژمنتيا لري. د اقتصادي پرمختګ لپاره د آقا خان سپما (AKFED)، چی د آقا خان د پرمختيايي شبکی(AKDN) يوه برخه ده، د روشن تر ټولو ډير پانګه اچوونکي دي چی په وروسته پاتي هيوادونو کي د اقتصادي زيربناګانو او شخصي تشبثاتو څخه ملاتړ کوي. همدارنګه دروشن يو اندازه پانګه اچونه د موناکو ټيليکام انټرنيشنل (MTI) او تيليا سونيرا له خوا تر سره شوي. روشن افغانستان ته نړيوال مهارتونه راوړي او د افغانانو لپاره د باکيفيته شبکي چمتو کولو ته ژمن دي.

د روشن په اړه د لا نورو معلوماتو لپاره www.roshan.af يا http://www.facebook.com/RoshanConnects ته مراجعه وکړئ. تاسو همدارنګه کولای شی مونږ د ټويټر له لاري @roshanconnects تعقيب کړئ.

د روشن سره د اړيکي لپاره

شفيع شريفی

ايميل: shafi.sharifi@roshan.af

تليفون: 0093799999065